Article

# "Internationalization" of International Law: A Critical Review

Kardan Journal of Law
1 (1) 74–95
©2019 Kardan University
Kardan Publications
Kabul, Afghanistan
DOI: 10.31841/KJL.2021.4
https://kardan.edu.af/Research/kardan_journal_of_law.aspx

**Zahid Jalaly**

## Abstract

*Principles and roots of International law are as old as the states themselves. From the first day states came into existence, they established bilateral and multilateral relations and thus some principles categorized today as principles of international law emerged. Some of the notions of international law were practiced in the city states of Mesopotamia, Egypt, the Israelites, Greeks, Romans as well as Muslims. However, modern international law as a system is different. This law is outcome of the European civilization that originated in Europe and was confined to the same continent for some time. It later expanded into the whole world including the Muslim world. This paper evaluates the evolution of international law from euro-centric world order to a more international world order. It contends that the era of Colonialism coupled with collapse of Ottoman Empire and establishment of the United Nations Organization paved the way for internationalization of international law; and hence even those who do not agree with principles of this system have to follow the same. In this context, the paper evaluates some of the changes that international law, as a world order has to cope with.*

**Keywords:** *International Law, International Order, Westphalian Treaty, Colonialism, United Nations*

**Mr. Zahid Jalaly** *is Assistant Professor and Academic Administrator at the Department of Bachelors in Political Science and International Relations, Faculty of Social Sciences, Kardan University.* *The author wishes to thank Dr. Ahmad Khalid Hatam for his valuable comments on the first draft of the paper. The author remains solely responsible for contents of the paper.*

# نړیوال قانون څنګه "نړیوال" شو؟

زاهد جلالي

## لنډیز

*د معاصر نړیوال نظم د ساتنې دنده د نړیوال قانون په غاړه ده چې اروپایي تمدن تېرو شاوخوا څلور سوو کلونو کې او مشخصاً له ویستفالیا تړون وروسته دغه قانون زیږولی او خړوب کړی دی. نړیوال قانون لومړی یوازې اروپا کې د مسیحیانو تر منځ د اړیکو تنظیموونکی و او د وخت په تېرېدو سره نورې نړۍ ته هم وغځېد. دا مقاله د نړیوال قانون پر دغه تکاملي سیر بحث کوي او څېړي چې اوسنی نړیوال قانون اروپا کې څنګه رامنځ ته شوی، څوک یې پلرونه دي او نورې نړۍ ته څنګه او ولې غځېدلی. په دغه بحث کې تېینګار شوی چې استعماري دوره او له استعمار وروسته موده د دې لامل شوې ده چې نړیوال قانون، د اسلامي نړۍ په شمول، نورې نړۍ ته ورسېږي او په رښتیا نړیوال شي. د مقالې په پای کې د نړیوال قانون پر راتلونکي او وړاندې ننګونو هم بحث شوی دی.*

**کیلي:** *نړیوال قانون، نړیوال نظم، ویستفالیا، استعمار، ملګري ملتونه، اسلامي نړۍ*

---

**زاهد جلالي**، د کاردان پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو د ډیپارټمنټ آمر او استاد دی. نوموړی د مقالې د بیاکتنې او رغنده تبصرو له امله له ډاکتر احمدخالد حاتم څخه مننه کوي خو په مقاله کې وړاندې شوي نظریات د لیکوال خپل دي.

## مقدمه

د نړیوال قانون، یا انټرنېشنل لا لفظ په لومړي وار د انګلستان د اتلسمې پېړۍ مشهور قانون پوه، جېرېمي بِنتم ( ۱۷۴۸-۱۸۳۲م) له خوا وکارول شو. نړیوال قانون پخوا د ملتونو قانون او د جګړې او سولې قانون په نامه هم یادېده. وروسته د نړیوال قانون لفظ کارېدل عام شول او نن ورځ د نړیوال قانون اصطلاح تر نورو اصطلاحاتو ډېره عامه ده چې تقریباً ټول کتابونه یې په همدغه نامه یادېږي. بِنتم په ۱۷۸۹م کال کې په خپل مشهور کتاب کې چې د اخلاقو او قانونګذارۍ اساساتو پېژندنه نومېده، نړیوال قانون تعریفوي او وایي چې دا د قانون هغه برخه ده چې د خپلواکو دولتونو دوه اړخیزې اړیکې څېړي.[۱]

د نړیوال قانون ځینې اصول دومره پخواني دي لکه دولتونه چې دي. معنا دا چې، دغه اصول له هغه ورځې د دولتونو ترمنځ په اړیکو کې موجود و، په کومه ورځ چې په نړۍ کې دولتونه رامنځ ته شوي او په خپل منځ کې یې اړیکې لرل شروع کړي دي. تاریخي لاسوندونه ښکاره کوي چې تر میلاد درې نیم زره کاله مخکې په یوه تمدن کې چې مېزوپوتامیا نومېده او اوسني عراق کې یې لمن خپره وه، هلته ښار-دولتونه موجود وو او دغو ښار-دولتونو استقلال لاره، په خپل منځ کې یې جګړې کولې او کله نا کله به یې د سولې تړونونه لاسلیکول.[۲] حمورابي د دغې سیمې واکمن و او د قانون په اړه د هغه کوډ یو له تاریخي حقوقي اسنادو څخه ګڼل کېږي.[۳] په دغه تمدن او ښار-دولتونو کې د نړیوال قانون ډېر محدود اصول، لکه د دولتونو د

---

۱ نړیوال قانون دوه ډوله تعریفونه لري، یو یې دودیز تعریف دی، چې نړیوال قانون د سولې او جګړې قانون بولي، او یا هم د هېوادونو تر منځ د اړیکو تنظیمولو قانون. خو معاصر نړیوال قانون بدل دی، دې کې نړیوال سازمانونه، نړیوال شرکتونه او افراد هم خپل ځانګړی ځای لري، نو معاصر تعریف پراخ دی. اوسمهال نړیوال قانون داسې تعریفېږي چې د هغو اصولو مجموعه ده چې د دولتونو تر منځ د اړیکو پر مهال پر دوی پلي کېږي. دغه اصول اساساً د دولتونو اړیکې اداره کوي، خو یوازې دولتونه د نړیوال قانون مخاطبین نه دي. نړیوال سازمانونه او، تر یوه حده، افرادو ته هم نړیوال قانون یو لړ حقوق ورکړي او پرې یې وجایب وضعه کړي دي.

2 Robert Tittler, The City-State in Five Cultures by Robert Griffeth, Carol G. Thomas, The International History Review, 04:04 (1982): 612-14. Available online at: <http://www.jstor.org/stable/40105260> (Last accessed: 05.12.2019); and David J. Bederman, International Law in Antiquity (Cambridge: Cambridge University Press, 2004), 23.

3 B. V. Rao, *World History* (New Delhi: Sterling Publishers Pvt. Ltd., 2004), 30.

خپلواکې مفهوم، واکمن وو. دغه راز، د تړون حیثیت او د تړون د احکامو الزامیت، چې د نړیوال قانون له مهمو بنسټونو څخه دي، له هغه وخته د دوی ترمنځ رایج وو.[4]

دغه راز تاریخي اسناد ښکاره کوي چې زرګونه کاله پخوا په اوسني مصر کې د هیتیانو په نامه خلک واکمن وو. د دوی په مشرانو کې رمسیس واکمن ډېر مشهور دی چې خپل دولت یې ډېر پراخ او د ستر قدرت برخه من کړ.[5] دغه دولت له شاوخوا دولتونو سره بېلابېل ډول اړیکې لرلې. دوی ډېر هېوادونه فتحه کړي او له نورو سره یې سوله ییزې اړیکې پاللې، ځینې هېوادونو ته یې استازي استول او ډالۍ یې ورلېږلې.[6] دوی د «تړون باید نقض نه شي» نړیوال قانون مهم اصل پېژانده او تر ډېره یې مراعاتوه.[7] تر دې چې د دوی د مختلفو تړونو متونه ثبت شوي او پکې ټینګار شوی دی چې تړون باید نقض نه شي.[8] په دغه ترتیب پخواني مصري تمدن کې هم د نړیوال قانون ځینې مهم اصول شته وو او مراعات کېدل.

په دې پسې د نړیوال قانون تاریخي کتابونه د یهودیانو د اسرائیلي دولت یادونه کوي چې تر مېلاد شاوخوا زر کاله مخکې واکمن و. د دوی دولت نور هېوادونه په دوو برخو وېشلي وو: لومړی هغه چې د دوی قسم خواره دوښمنان وو[9] او دویم هغه ملتونه چې دوی ډېر بد نه بلل. لومړۍ کټګورۍ سره به د دوی جګړه ډېره وحشیانه وه. اسراییلیانو به د جګړې پر مهال د دوی جنګیالي او غیر جنګیالي ټول یو ډول وژل. هغوی به د دغو دښمنانو ښځې، ماشومان او آن څناور له منځه وړل.[10] له عادي دښمنانو سره د دوی تعامل بدل و. له هغوی سره یې د جګړې آداب تر ډېره مراعاتول، د هغوی هېوادونو ته یې سفیران او استازي لېږل او د سولې تړون ته ژمن پاتې کېدل.[11] دغه راز دوی د جګړې د بندیانو په اړه قانون درلود. یا به یې وژل،

---

4 *Ibid.*

5 Rao, *World History*, 21-23.

6 Kurt A. Raaflaub ed., *War and Peace in the Ancient World* (Malden: Blackwell Publishing Ltd, 2007), 83-101.

7 *Ibid.*

8 *Ibid.*

9 Oppenheim, *International Law: A Treatise* (London: Longmans, Green and Co., 1905), 52-53.

10 Raaflaub ed., *War and Peace in the Ancient World*, 149.

11 Oppenheim, *International Law*, 52-53.

یا به یې غلامانول او که به شمېر بیخي زیات او مړول به یې ستونزمن وو، نو دوی به یې آزادول.[۱۲] معنا دا چې د تېرو تمدنونو په څېر دوی هم د نړیوال قانون ځینې محدود اصول لرل او ځینې یې مراعاتول.

د نړیوال قانون په تاریخ کې دغه راز د یونان ښار-دولتونه هم ځانګړی ځای لري. دغه تمدن چې د اوسني غربي تمدن ریښې بلل کېږي، تر مېلاد اووه نیم سوه کاله وړاندې د یونان په مختلفو ښارونو کې ښار-دولتونه جوړ کړي وو.[۱۳] دوی له نورو هېوادونو سره د جګړې پر مهال اصول نه مراعاتول، ځکه چې هغوی به یې وحشیان بلل.[۱٤] خو په خپلو منځو کې به یې د جګړې اصول په نظر کې نیول او له جګړې مخکې به یې هڅه کوله چې له ډیپلوماتیکې لارو د جګړې مخه ونیسي. اوپنهایم (۱۸۵۸-۱۹۱۹) لیکي چې دوی پر دې باور وو چې د جګړې له پیل مخکې باید د جګړې رسمي اعلان وشي.[۱۵] دوی د جګړې پر مهال هم ځینې آداب په نظر کې نیول، لکه وژل شوي پوځیان به یې خښول، هغه کسان به یې نه وژل چې په مذهبي ځایونو کې یې پناه اخیسته، او د جنګي بندیانو تبادله او په پیسو خوشې کول د نړیوال قانون هغه اصول وو چې په یوناني تمدن کې لیدل شوي او پلي کېدل.[۱٦]

د یوناني تمدن په تعقیب رومي تمدن هم پر اوسني اروپایي تمدن ډېرې اغېزې لري. دوی هم د نړیوال قانون په تاریخ کې مهم ځای لري. د رومي امپراتورۍ ریښه تر میلاد اووه سوه کاله وړاندې د روم ښار په جوړېدو کې ده. دغه جنګیالي دولت په لږه موده کې ډېر هېوادونه ونیول او سوونه کاله وروسته یې د نړۍ ستره برخه تر خپلې واکمنۍ لاندې راوسته.[۱۷] د رومیانو په تمدن کې د نړیوال قانون ځینې محدود اصول او لارښوونې شته وې. هغوی د جګړې پر مهال ځینې اصول مراعاتول. هلته څه مذهبي کسان و چې فیټایل *Fetiale* یې بلل

12 Hershey, Amos S., The History of International Relations during Antiquity and the Middle Ages, *The American Journal of International Law* (1911): 901-33.

13 "Rise of City-States: Athens and Sparta," *Ancient Civilizations*, http://www.ushistory.org/civ/5a.asp (Last accessed: 05.12.2019).

14 Oppenheim, *International Law*, 52.

15 *Ibid.*, 53.

16 *Ibid.*

17 R. R. Palmer, Joel Colton and Lloyd Kramer, *A History of the Modern World* (McGraw-Hill, 2007), 14.

او د جګړې د پیل پر مهال ځینې رسمونه تر سره کول د هغوی دنده وه. فیټایل به عادلانه او غیر عادلانه جګړه سره تفکیک کوله او د جګړې اعلان[۱۸] هم د دوی دنده وه.[۱۹] معنا دا چې رومي تمدن هم د نړیوال قانون ځینې بحثونه تازه کړي و.

د نړیوال قانون په تاریخ کې یو له پامه غورځېدلی باب د مسلمانانو دی. اروپایان عموماً دغه باب ته توجه نه کوي او په منډه پرې تېرېږي. مسلمانانو د سولې، جګړې، بې پرې توب، او د هېوادونو د مسئولیت په باب زښت ډېر کتابونه لیکلي او د مسلمانانو په تمدن کې دغه اصول په جدي توګه مراعات کېدل. قرآن کریم او نبوي سنتو د دغه مسایلو بنسټونه واضح کړي او د فقهې منابع په دغه تړاو ډېر غني دي. د نړیوال قانون په تاریخ کې لومړی لیکل شوی کتاب د امام محمد بن حسن الشیباني (۷۴۹-۸۰۵) دی چې په دغه تړاو تفصیلي بحثونه لري. په دغو کتابونو کې د جګړې ادابو په تړاو، د بندیانو په اړه، د سولې په اړه او نورو مسایلو په باب ډېر اصول شته، چې متاسفانه اروپایي لیکوالو له پامه غورځولي.[۲۰]

خو اوسنی نړیوال قانون د یو نظم په توګه دومره زوړ نه دی. د دې ریښې په اوسني غربي تمدن کې دي چې شاوخوا څلور سوه کاله تاریخ لري. د نړیوال قانون ستر لیکوال، مېلکم شا (۱۹۴۷-) په همدې نظر دی.[۲۱] ځینې نور لیکوالان دغه قانون د مسیحي تمدن لاسته

[۱۸] د مثال په توګه، کله چې رومي دولت له بل دولت څخه څه غوښتنې لرلې، نو د فټایل مشر به یې د دوښمن هېواد خاورې ته استاوه، هغه به خپلې غوښتنې هغوی ته اعلانولې او درې دېرش ورځې به یې انتظار کاوه. کله چې به هغوی د دوی غوښتنو ته مثبت ځواب نه وایه نو دوی به دښمن هېواد غیر عادلانه او د دوی پر وړاندې جګړه به یې عادلانه او مشروع بلله.

David J. Bederman, *International Law in Antiquity*, 231-232.

19 Dimitrios Delibasis, *The Right to National Self-defense: In Information Warfare Operations* (UK: Arena Books, 2007), 88.

[۲۰] د اسلامي نړیوال قانون په اړه ډېر کتابونه لیکل شوي دي. محمد حمید الله په دغه تړاو ډېر لیکل کړي او د دوکتورا تېول تیزس یې پر اسلامي نړیوال قانون دی. دغه راز محمود احمد غازي، محمد منیر، جمعه ضمیریه او نورو لیکوالو ډېر څه لیکلي. د تفصیلاتو له پاره د لیکوال دغه مقاله وګورئ:

Zahid Jalaly, "Analysis of Origin, Development and Nature of Islamic International Law," *Kardan Journal of Social Sciences and Humanities* (2018), 3-29.

21 Malcolm Shaw, *International Law* (Delhi: Cambridge University Press, 2008), 13-14.

راوړنه بولي چې یو مهال یوازې د اروپا له پاره و او د اروپا مسیحیانو، چې ځانونه متمدن او نوره نړۍ وروسته پاتې او بربري بلله، نور هېوادونه د دې وړ او جوګه نه بلل چې ګواکې نړیوال قانون دې هغوی ته حقوق ورکړي او یا دې د هغوی وجایب تعیین کړي. په لنډو ټکو، د اروپا مسیحیانو نوره نړۍ په رسمیت نه پېژندله او پدې نظر وو چې له نورو سره هر ډول چلند سم او د منلو وړ دی. دغه قانون هغه مهال د اروپایي محدود هېوادونو قانون و. دا مقاله د اوسني نړیوال قانون ریښې څېړي او هڅه کوي چې ښکاره کړي چې دغه نړیوال قانون څنګه له اروپایي او محدود قانون څخه په نړیوال قانون بدل شو.

## ۱- وېستفالیا تړون: نوي دولتونه او نوی نړیوال نظم

د جرمني په وېستفالیا سیمه کې په ۱٦۴۸م کال کې د اروپا مشران راټول شول او د وېستفالیا تړون په نامه یې څو توافقونه ترسره کړل چې پر نړیوال قانون یې ستر تاثیر درلود. په دغه غونډه کې د ساورنټي یا حاکمیت فکر ته، چې پخوا د فیلسوفانو له لورې په کتابونو کې وړاندې شوی و، د عمل جامه ورواغوستل شوه. په همدې غونډه کې وه چې د ټولو هېوادونو مشران په کې یو ډول وبلل شول او ټولو سره د خپلواک په توګه چلند ترسره کېده. ویل کېږي چې د غونډې پر مهال مشر نه و، ځکه ټولو هېوادونه ځانونه مساوي بلل او د مشر او کشر مفهوم یې له منځه یوړ. تر څو یو وروسته او بل مخکې نه شي، د هر یو هیواد مشر له پاره دروازه ځانګړې شوې وه.[22]

د پوهانو له نظره دا د وېستفالیا تړون و چې دولتونو ته یې دا حق ورکړ چې له بهرنۍ لاسوهنې پرته خپلې چارې، څنګه چې غواړي اداره کړي. دغه لاسوهنه پر سیاسي، یا حقوقي یا مذهبي بنسټونو هم روا نه ده او د خپلې خاورې خپل اختیار پر بنسټ هېوادونه حاکمیت لري. په دغه ترتیب د وېستفالیا تړون هېوادونو ته د مستقلې او خپلواکې ادارې اجازه ورکړه او د پاپ، کلیسا او نورو هېوادونو واک او لاسوهنه یې محدوده کړه.[23]

---

[22] د تفصیلاتو له پاره؛ زاهد جلالي، *شرق او غرب: یوه لنډه پرتله* (کابل: اکسوس کتابپلورنځی، ۲۰۱۸)، ۱۴-۱٦.

[23] Stephane Beaulac, The Westphalian Model in Defining International Law: Challenging the Myth, *Australian Journal of Legal History*, 8 (2004).

د نړیوال قانون پوهان پر دې باور دي چې د وېستفالیا تړون د اوسنیو ملت-دولتونو د زېږېدو اصلي پیل دی. تر دې وړاندې دولتونه وو، خو په دغه شکل نه. له دې وروسته مستقل دولتونه جوړ شول، ټول مساوي بلل کېدل او د حاکمیت اصل، چې د معاصر نړیوال قانون اساس بلل کېده، په کې واکمن و. چارلېس راینې لیکي چې د اروپا دودیز نړیوال قانون له وېستفالیا تړون سره پیل کېږي چې دولتونه په کې په رسمي توګه خپلواک او مستقل سیاسي واحدونه وبلل شول.[24]

امریکایي سیاستوال او د سیاسي علومو پروفیسر، هنري کسېنجر (۱۹۲۳-) هم په خپل کتاب کې پر وېستفالیا تړون ټینګار کوي او دا د نوي نړیوال نظم اساس بولي.[25] پر دې اساس، د معاصر نړیوال قانون په تاریخ کې د وېستفالیا تړون د مور حیثیت لري او وروسته یې داسې هېوادونه وزېږول چې د نړیوال قانون په غوړېدو او نړیوال نظم په جوړښت کې یې اساسي رول ولوباوه.[26] خو یادونه یې لازم ده چې د وېستفالیا تړون تر اروپایي هېوادونو محدود و، او نوره نړۍ کې بیا هم د پخوا په څېر نظم حاکم و. دا چې دغه سیاسي نظم نوره نړۍ کې څنګه خپور شو، وروسته یې څېړو. اوس به همدغه وخت کې په اروپا کې د نړیوال قانون په اړه علمي پرمختګ وڅېړو.

### ۲- د نړیوال قانون بنسټګر

په اروپا کې معاصر نړیوال قانون د رنېسانس د دورې تولید دی. مذهبي جګړې او وېستفالیا د نړیوال قانون د پلي کېدو لاره هواره کړه او رنېسانس او دغه راز د نړیوال قانون لیکوالو د دغه قانون معنوي بنسټونه وضعه کړل. دا ټول تقریبا په یوه موده کې ترسره شوي دي. پورته یادې شوې نېټې ټولې پېښې د پنځلسمې او اولسمې پېړۍ ترمنځ ترسره شوي دي.

د نړیوال قانون بنسټګر او پلاران د رنېسانس، مذهبي جګړو او ځینې د وېستفالیا تړون شاهدان وو. د دغه قانون تر ټولو لومړی لیکوال فرانسېسکو ویټوریا (۱۵۴۶-۱۴۸۰) ګڼل کېږي چې

[24] *Ibid*.

[25] Henry Kissinger, *World Order: Reflections on the Character of Nations and the Course of History* (UK: Penguin Books, 2015).

[26] Peter Malanczuk, *Akehurst's Modern Introduction to International Law* (London: Routledge, 1997), 11.

د سلامانکا پوهنتون د الهیاتو د برخې استاد و. شاګردانو یې د هغه لکچرونه راغونډ کړي وو او وروسته یې د کتاب په شکل چاپ کړل. ویټوریا پر جنوبي امریکا د هسپانویانو بریدونه او د دغې سیمې فتحه په خپلو لکچرونو کې څېړلې ده. دغه وخت کې نړیوال نظم پر طبیعي قانون (natural law) ولاړ و.[27] د نړیوال قانون بل مهم لیکوال سوارېز (۱۶۱۷-۱۵۴۸) و. هغه هم د الهیاتو استاد او پر دې باور و چې نړیوال قانون باید څکه پلی شي چې پر طبیعي قانون ولاړ دی او پر ټولو خلکو پلی کېږي. هغه له طبیعي قانون څخه د عمومي تړون اصول استنباط کړی وو.[28] د ویټوریا او سوارېز پر ګډون څینو نورو لیکوالو او د پوهنتون استادانو هم د نړیوال قانون په اړه لیکل کړي دي؛ خو ایټالوي لیکوال او د اکسفورډ پوهنتون د مدني قانون پروفیسر، البېریکو جېنټېلي (۱۶۰۸-۱۵۵۲) تر ټولو اغېزمن دی.[29] هغه په خپل کتاب، د جګړې قانون (*De Jure Belli*)، کې چې ۱۵۹۸م کال کې یې انګلستان کې لیکلی و، د جګړې او د تړونونو د قانون په اړه تفصیلي بحثونه کړي دي.[30] تر جېنټېلي وروسته د نړیوال قانون تر ټولو ستر او مشهور لیکوال هوګو ګروشیوس (۱۶۴۵-۱۵۸۳م) دی. هغه د الهیاتو، تاریخ، ریاضیاتو او قانون متخصص و.[31] د سولې او جګړې قانون ( *De Jure Belli ac Pacis*) د هغه تر ټولو مهم اثر دی چې لومړی وار په ۱۶۲۵م کال کې خپور شو. همدا کتاب دی چې ګروشیوس پرې د نړیوال قانون د پلار لقب ګټلی دی[32] څکه چې د نومړي دغه کتاب ډېر عام شو او تقریباً له همدغه کتاب وروسته په اروپا کې هېوادونو د نړیوال قانون پلي کول ورو ورو شروع کړل.[33]

که څه هم ګروشیوس د نړیوال قانون د بېلابېلو برخو په هکله لیکل کړي، خو د سمندر قانون په اړه یې نظر د پام وړ دی. هغه له پرتګالیانو سره په دې کې مخالف و چې سمندر دې د

27 Shaw, *International Law*, 22.

28 *Ibid.*, 23.

29 J.G. Starke, *Introduction to International Law* (London: Butterworth and Co., 1989), 9.

30 Shaw, *International Law*, 23.

31 *Ibid*.

32 Starke, *Introduction to International Law*, 9.

33 Oppenheim, *International Law: A Treatise*. 64.

دولتونو د واکمنۍ لاندې راوستل شي، نو ځکه يې د آزاد سمندر نظر وړاندې کړ.[۳۴] معنا دا چې سمندر د ټول انسانيت ملکيت دی او دولتونه حق نه لري چې دا يوازې ځان ته محدود او نور ترې محروم کړي. دغه راز نړيوال قانون کې د عادلانه جګړې او غير عادلانه جګړې او نور مفاهيم ګروشيوس ته ورګرځي.[۳۵]

که څه هم ګروشيوس د نړيوال قانون د پلار په نامه ډېر شهرت لري او د اوپنهايم په څېر ليکوال هم دا يو مناسب او پر ځای لقب بولي،[۳۶] خو اوسمهال ډېری پوهان هغه ته د دغه لقب ورکولو سره مخالف دي.[۳۷] د هغوی دليل دا دی چې ګروشيوس په خپلو کتابونو کې له ويټوريا او جېنټېلي څخه ډېر متاثر ښکاري. په ځانګړې توګه، هغه د جېنټېلي ډېر نظريات بيا ځل وړاندې کړي دي. له همدې کبله ځينې ليکوالان ټوکه کوي چې که ګروشيوس د نړيوال قانون پلار وي، نو جېنټېلي يې بايد نيکه ومنل شي.

پورته يادو شوو اشخاصو د معاصر نړيوال قانون بنسټ ايښی او پر راتلونکي نړيوال قانون او د دغه قانون پر ليکوالانو خورا ډېر اغېز لري، نو ځکه دوی د نړيوال قانون مؤسسين بلل کېږي.

## ۳- استعماري دوره: نړيوال قانون د نړيوال کېدو پر لور

د نولسمې پېړۍ تر پنځوسمو کلونو او آن تر دې وروسته هم نړيوال قانون په رښتينې معنا نړيوال نه و، بلکې د اروپايي دولتونو، هغه هم مسيحيت منونکو، تر منځ د اړيکو اداره کولو چاره يې پر غاړه وه. امريکا په ۱۷۷۶م کال کې د آزادۍ اعلان وکړ او خپلواکي يې خپل حق وباله چې په دغه ترتيب د نړيوال قانون يو اساس کېښودل شو، خو امريکا هم د اروپايي-مسيحي فرهنګ او تمدن يوه برخه ده.

نوره نړۍ پر دوو دلايلو له نړيوال قانون څخه محرومه وه. لومړی دا چې اروپايانو ځانونه متمدن بلل او نور يې بربريان. پر دې اساس، دوی نړيوال قانون يوازې تر «مسيحي-اروپايي»

---

34 Shaw, *International Law*, 24.

35 Starke, *Introduction to International Law*, 10.

36 Oppenheim, *International Law: A Treatise*. 64.

37 Shaw, *International Law*, 23; Starke, *Introduction to International Law*, 11.

هېوادونو محدود کړی و او پر نورو يې نه پلی کاوه.[۳۸] بل دليل به ښايي دا و چې نورو هېوادونو هم اروپايي نړيوال قانون نه مانه. د مثال په توګه د چين واکمن دې ته حاضر نه و چې د انګلستان د واکمن سياسي استازي ته خپل هېواد کې د دننه کېدو اجازه ورکړي.[۳۹] دغه راز عثماني خلافت د اسلامي تمدن د ساتونکي په توګه غربي نړيوال قانون په خپل اصلي شکل نه شو منلای، ځکه چې د هماغې ټولنې ارزښتونه يې تمثيلول.

لومړی وار په ۱۸۵٦م کال کې اروپا دې ته حاضر شوه چې عثماني خلافت، چې يو اروپايي غير مسيحي هېواد و، هم په رسميت وپېژني. د دې رسميت پېژندنی تر شا لامل دا وو چې په دغه کال کې عثماني خلافت تزاري روسيې ته، د فرانسې او انګلستان په ملګرتيا، ماته ورکړه. دا رسميت پېژندل د پاريس تړون پر اساس وشول چې د ۱۸۵٦م کال په مارچ کې لاسليک شو.[٤٠] خو پروفيسر محمود احمد غازي (۱۹۵۰-۲۰۱۰) بيا په دې باور دی چې دغه تړون کې يوازې دا اعتراف شوی چې عثماني خلافت اروپايي ځواک دی، نه دا چې د نړيوال قانون مخاطب او د دغه قانون له حقوقو او امتيازاتو څخه برخمن دی. تر دغو کلونو پورې نړيوال قانون يوازې په اروپا کې د سولې او جګړې قانون و. خو په واقعي معنا نړيوال ځکه نه وو چې يوازې د کور دننه او د يوې عقيدې خلکو اړيکې د دغه قانون سره سم تنظيمېدې خو له نورو خلکو او نورو هېوادونو سره د اړيکو لپاره نه قانون وو او نه مقررات.

دا يادونه لازمه ده چې د نړيوال قانون په تاريخ کې استعماري دوره، چې له اتلسمې پېړۍ پيل کېږي، خورا ارزښتناکه ده. اتلسمه پېړۍ کې د انګلستان شرقي هندي کمپنۍ (East India Company) له مغولي هند سره تجارتي اړيکې ټينګې کړې، خو ورو ورو دغه کمپنۍ په سيمه کې د يو ځواک په توګه مطرح او په پای کې پر هر څه واکمنه شوه.[٤١] هند کې د

38 Muhammad B. Hassan Al-Shaybani, *the Shorter Book on Muslim International Law*, trans. Mahmoud Ahmad Ghazi (Islamabad: Islamic Research Institute, 1998), 1.

39 Malanczuk, *Akehurst's Modern Introduction to International Law*, 12-13.

40 *Ibid*.

٤١ څېړنې په ډاګه کوي چې شرقي هندي کمپنۍ په دغه موده کې له هندوستان څخه د نن ورځ په ارزښت ۴۵ ټريليونه ډالر (۴۵۰۰۰ ميلياردە، چې يو ميليارد رز ميليونه ډالر کېږي) په ارزښت شتمني لوټ کړې ده. د لا تفصيل لپاره وګورئ:

۱۸۵۷م کال له پاڅون وروسته انګلستان اعلان وکړ چې هندوستان یې یوه رسمي برخه ده او په دغه ترتیب هندوستان هم د اروپا یوه برخه شوه او د هماغه تمدن ریښې په کې په خورېدو شوې.

د اتلسمې پېړۍ وروستیو کلونو کې فرانسوي ځواکونه مصر ته راغلل خو دوی څو کلونه وروسته بېرته ووتل. له همدې وروسته د انګستان، فرانسې، ایټالیې او نورو اروپايي قدرتونو مخه اسيايي او افريقايي هېوادونو ته شوه، د دغو سیمو ډېره برخه یې تر خپلې ولکې لاندې راوسته او خپل قوانین او فرهنګ یې پرې وتپل. د اسلامي قانون معاصر متخصص او د کولمبیا پوهنتون استاد، وایل حلّاق (۱۹۵۵- ) لیکي چې ملت-دولت په استعماري دوره کې اسلامي نړۍ ته راغلی او د مستعمرینو په لاس دلته ځای پر ځای شوی دی.[42] هغه په خپل کتاب کې تفصیلي بحث کړی دی چې څنګه اسلامي قوانین په تدریج سره په غربي قوانینو بدل شوي او د اسلامي نړۍ «اسلامیتوب» په «غربیتوب» بدل شوی دی.[43] حلّاق لیکي:

> *په هندوستان کې د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کلونو کې او په منځنۍ ختیځ کې د نولسمې پېړۍ په پیل کې چې تر ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ م کلونو یې دوام وکړ، د دغو هېوادونو د سیستمونو د غربي کېدو هڅې او حرکت پیل شو. دغه بدلون ډېر ستر او جذري و. په دغو هېوادونو کې د اسلامي شریعت د له منځه وړلو له پاره ډېر سیستماتیک کار وشو چې بالآخره دغه قانون «فردي» امورو ته منحصر او له ټولنیز او دولتي سیستم سره پرې شو.*[44]

په دغه شکل، نړیوال قانون هم له اروپا واوت او د نړیوال کېدو پر لور یې مزل پیل کړ. د اتلسمې او نولسمې پېړۍ په اوږدو کې د پراخېدو تر څنګ نړیوال قانون کې ځینې مهم

Jason Hickel, "How Britain stole $45 trillion from India and lied about it," *Aljazeera*. برېښنایي پته: <https://www.aljazeera.com/indepth/opinion/britain-stole-45-trillion-india-181206124830851.html> (وکتل شو:۲۰۱۹.۱۲.۲۵).

42 Wael B. Hallaq, *An Introduction to Islamic Law* (Cambridge: Cambridge University Press), 120.

43 *Ibid.*

44 *Ibid.*, 140.

لیکوالان هم څرګند شوي چې د دغې دورې اهمیت زیاتوي.[45] همدارنګه، په نولسمه پېړۍ کې د جګړې قانون، یا نړیوال بشردوستانه قانون په لړ کې مهم پرمختګونه وشول. په ۱۸٦٣ او ۱۸٦۴م کلونو کې جنیوا ښار کې د هنري ډیونانټ (۱۸۲۸-۱۹۱۰) د هڅو پر بنسټ د سره صلیب اداره رامنځ ته شوه او د هېوادونو په مرسته یې مختلف قوانین وضعه کړل چې یې موخه په جګړه کې د اسلحو د کارولو مدیریت او د جګړې د اغېزو محدودول دي.[46]

## ۴- شلمه پېړۍ: نړیوال قانون په نوې جامه کې

شلمه پېړۍ د نړیوال قانون تاریخ کې ځانګړی اهمیت لري. همدغه موده کې نړیوال قانون معاصره څېره خپله کړه او پر ټوله نړۍ، په زور یا په رضا، پلی شو او په ریښتینې معنا یې د نړیوال قانون رنګ واخیست. د شلمې پېړۍ په پیل کې، د څو کنفرانسونو او ناستو په پایله کې ځینې هېوادونه دې نتیجې ته ورسېدل چې د شخړو هوارولو له پاره باید یوه نړیواله محکمه جوړه کړي. په ۱۹۲۱م کال کې دوی د نړیوال عدالت دایمه محکمه تاسیس کړه چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۴٦م کال کې بیا د عدالت نړیوالې محکمې ته واوښته.[47] د نړیوال قانون په پرمخ بېولو او پراخولو کې د عدالت نړیوالې محکمې او تر دې مخکېنیو محکمې رول ډېر واضح دی.

د شلمې پېړۍ تر ټولو مهمې حادثې دوه نړیوالې جګړې دي چې له امله یې نړۍ کې ډېر بدلونونه رامنځ ته شول. د لومړۍ نړیوالې جګړې په نتیجه کې عثماني خلافت سقوط وکړ او پراخه ځمکه اروپایي ځواکونو ته پاتې شوه. د ۱۹۱۹م کال د سولې تړون په نتیجه کې د ملتونو مجمع (League of Nations) ایجاد او په نړۍ کې نوی نظم پلی شو.[48]

د لومړۍ نړیوالې جګړې په نتیجه کې اروپایي قدرتونه د آسیا او افریقا پر ډېره برخه واکمن شول. د ملتونو مجمع دوی ته اجازه ورکړه چې دغو ځمکو کې د منډېټ mandate په نامه یو سېستم یې رامنځ ته کړي. د دغه سیستم له مخې دوی ویل چې په دغو «غیر متمدنو»

[45] Starke, *Introduction to International Law*, 11.

[46] Malanczuk, *Akehurst's Modern Introduction to International Law*, 22-23.

[47] Starke, *Introduction to International Law*, 12.

[48] Shaw, *International Law*, 30.

سیمو کې خلک روزي تر څو راتلونکي کې د هېواد چارې اداره کړي. په دغه ترتیب غربي نړیوال نظم او د حکومتدارۍ سیستمونه تر آسیا او افریقا پورې ورسېدل.[۴۹] دغه راز نړیوال قانون ته د شلمې پېړۍ یوه بله ستره ډالۍ د کار نړیوال سازمان یا International Labor Organization و. دغه سازمان له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته جوړ شو او تر ننه فعال دی. د کار نړیوال سازمان د کارګرو په اړه په سلګونو قوانین وضعه کړي دي او په دغه برخه کې یې تاثیر د پام وړ دی.[۵۰]

د ملتونو مجمع چې د کومې موخې له پاره جوړ شوی و، په هغې کې ناکام شو او نړۍ د یوه بل ستر او تباه کوونکي جنګ پر لور روانه شوه. دویمه نړیواله جګړه چې په ۱۹۳۹م کال کې پیل شوه چې په نتیجه کې یې د ملتونو مجمع سقوط او نړۍ نږدې پنځه کاله د دغې سترې جګړې په اور کې وسوځېده. د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو وروسته د ملګرو ملتونو سازمان رامنځ ته شو او د نړیوال قانون په تاریخ کې یو نوی څپرکی پیل شو.[۵۱]

خو د دوو نړیوالو جګړو تر منځ یوه ډېره مهمه پېښه په ۱۹۲۸م کال کې د پاریس تړون (Kellogg-Briand Pact) دی چې د جرمني، امریکا او فرانسې لخوا په یوه ورځ لاسلیک شو او وروسته، د افغانستان په شمول، نورو هېوادونو یې هم غړیتوب تر لاسه کړ. په دغه

۴۹ کله چې لومړۍ نړیواله جګړه کې جرمني او عثماني خلافت ماتې وخوړه نو ایتلافي ځواکونو د عثماني خلافت خاوره او د جرمني مستعمرې په خپلو کې سره ووېشلې او د ملتونو ادارې (League of Nations) د دې په پلمه دوی ته پر دغو سیمو د واکمنۍ اجازه ورکړه چې د دغو سیمو خلک نه شي کولای په خپله ځان اداره کړي؛ نو ایتلافي او بریالي ځواکونه باید په دغو سیمو کې مشران وروزي چې راتلونکي کې د دولت چارې اداره کړي. د خلافت مختلفي سیمې او د جرمني مستعمرې د A, B او C په درېو برخو ووېشل شوې. A برخه کې عراق، اردن، سوریې او د لبنان ځینې برخې او فلسطین برطانیې ته ورکړل شول. پاتې لبنان او سوریه فرانسوي استعمار ته ورکړل شوې. B برخه کې د جرمني افریقایي مستعمرې وې چې د برطانیې او بلجیم ترمنځ ووېشل شوې. C برخه هم په همدغه ډول ووېشل شوه. برطانیې دغه راز پر مصر، یمن، د صومال پر ځینو برخو او سوډان هم واکمني کوله. بلې خوا فرانسې الجزایر، تونس، مغرب او جیبوتي هم نیولې وه. دغه راز ایټالیوي استعمار لیبیا او سوډان نیولی و. د اسلامي نړۍ نوره برخه هم په دغه شکل غربي اروپایي استعمار برخه وه. ځینو هېوادونو کې ځآیي عربي رسم الخط هم په استعماري بدل شو او د تاریخ، دین او فرهنګ د بدلولو هڅې وشوې. خو په شلمه پېړۍ کې کله چې دغه سیمو له استعمار څخه آزادي واخیسته نو مستعمرینو په کې داسې خلک واکمنان کړل چې دوی ته نږدې خلک و او د دوی د ګټو مخه یې نه نیوله. جلالي ، *شرق او غرب*، ۲۱-۲۲.

50 Starke, *Introduction to International Law*, 12.

51 Shaw, *International Law*, 31.

ترون کې د نړیوال قانون په تاریخ کې لومړی وار و چې جګړه ناسم کار وبلل شو او د ملي پالیسي په توګه ترې له کار اخیستلو ممانعت اعلان شو.[52] له دې ترون څخه په ضمني توګه دا استنباط هم کولای شو د ځاني دفاع پراخه تفسیر یې محدود نه کړ.[53] د مثال په توګه انګلستان په ټوله امپراتوري کې د خپلو ګټو ساتلو لپاره د ځواک کارولو ته د ځاني دفاع چتر ورکاوه.

د ملګرو ملتونو اداري له جوړېدو سره، تر ډېره بریده، په دویمه نړیواله جګړه کې د ګټونکو هېوادونو په خوښه نړیوال نظم جوړ شو. په ټوله کې، د ۱۹۴۵م کال سان فرانسیسکو کنفرانس په ترڅ کې له ډېرو بحثونو وروسته پرېکړه وشوه چې نوی نړیوال نظم به پر بشري حقونو ولاړ وي او د ملګرو ملتونو اصول به پر سوله او امنیت څرخېږي.[54] د منشور له مخې، د امنیت شورا،[55] چې دملګرو ملتونو تر ټولو مهمه او اجرایي برخه ده، اصلي دنده په نړۍ کې د سولې

---

[52] Article I: The High Contracting Parties solemnly declare in the names of their respective peoples that they condemn recourse to war for the solution of international controversies, and renounce it as an instrument of national policy in their relations with one another.

ژباړه: "غړي هېوادونه د خپلو ملتونو په نوم په کلکه اعلان کوي چې د نړیوالو شخړو د حل لپاره جګړه غندي او یو له بل سره د اړیکو په ترڅ کې د جګړې څخه د ملي پالیسۍ په توګه ګټه اخیستل ردوي". دا ترون ځکه ناکام شو چې نه یې جګړه غیرقانوني اعلان کړه، او نه یې د ترون د انفاذ میکانیزم واضح کړ. د نور تفصیل لپاره، وګورئ: *Renunciation of War as an Instrument of National Policy (Kellogg-Briand Peace Pact Or Pact Of Paris)* برېښنایي پته: <https://www.loc.gov/law/help/us-treaties/bevans/m-ust000002-0732.pdf> (وکتل شو: ۲۰۱۹.۱۲.۲۵).

[53] Malanczuk, *Akehurst's Modern Introduction to International Law*, 24.

[54] د ملګرو ملتونو څلور موخې د ملګرو ملتونو سازمان منشور په خپله لومړۍ ماده کې واضح کړې دي. د سولې او امن ټینګول، د هېوادونو تر منځ د مساوات او خپلواکۍ پر بنسټ دوستانه اړیکې غځول، د هېوادونو تر منځ د ملګرتیا احساس پیاوړی کول تر څو نړیوال اقتصادي، ټولنیز، کلتوري، او بشري مشکلاتو لپاره د حل لاره ولټول شي، د ملګرو ملتونو د موخو د ترلاسه کولو لپاره یو نړیوال فورم رامنځ ته کول د ملګرو ملتونو موخې دي. د نور تفصیل او د منشور شالید لپاره، وګورئ: 1945: The San Francisco Conference، برېښنایي پته: <https://www.un.org/en/sections/history-united-nations-charter/1945-san-francisco-conference/> (وکتل شو: ۲۰۱۹.۱۲.۲۵).

[55] ملګري ملتونه دغه شپږ اساسي ارګانونه لري: ۱. عمومي اسامبله، ۲. امنیت شورا، ۳. اقتصادي او ټولنیزه شورا، ۴. د قیمومیت شورا، ۵. عدالت نړیواله محکمه، ٦. دار الانشاء (سکرتریت). خو د امنیت شورا تر ټولو با

او امنیت ساتل دي. د امنیت شورا پنځلس غړي لري او هر غړی یې یوه رایه لري.[٥٦] خو د ټولو غړو د رایې ارزښت یو ډول نه دی. د دغو پنځلس غړو څخه پنځه غړي، امریکا، روسیه، چین، فرانسه او انګلستان، دایمي غړیتوب لري.[٥٧] دایمي غړو د ملګرو ملتونو د جوړېدو پر مهال دا مقام تر لاسه کړی وو او ستر امتیاز یې د ویټو حق دی. معنا دا چې هر یو کولای شي چې د دغه حق په کارولو د امنیت شورا کې د هرې پرېکړې مخه ونیسي. کله چې پرېکړه ترسره کېږي، د پنځو دایمي غړو په ګډون باید نهه هېواده پرېکړه تایید کړي.[٥٨] په دغه ترتیب د ملګرو ملتونو د سازمان په امنیت شورا کې د نړۍ نور ستر تمدنونه له پامه وغورځول شول او د نړۍ مشري همدغو څو هېوادونو ته وسپارل شوه.

له پنځو دایمي غړو پرته نور هېوادونه د عمومي اسامبلې له خوا د امنیت شورا ته ټاکل کېږي.[٥٩] دوی هر یو دوه کلنه دوره لري او له دوه کلو وروسته یې ځای بل هېواد نیسي. په لومړیو کې غیر دایمي غړي شپږ وو، خو په ۱۹٦٦م کال کې په منشور کې بدلونونه رامنځ ته شول او دا موده لسو غړو ته وغځېده.[٦٠] د یادولو وړ ده چې له ۱۹۸۵م کال را په دې خوا، د امنیت شورا پر ترکیب نیوکې ډېرې شوې او د بدلون له پاره وړاندیزونه هم شوي دي.[٦١] عمومي اسامبله کې که څه هم د ملګرو ملتونو ټول غړي برخه لري، خو هغه اجرایي صلاحیتونه نه لري او د نړۍ د سولې او جګړې په باب سترې فیصلې نه شي کولای.

---

صلاحیته، مهم او مرکزي اورګان دی چې پنځه هېوادونه په کې اصلي او مرکزي رول لري. وګورئ، Shaw, *International Law*, 1206.

56 The Security Council, *United Nations*. www.un.org/en/sc/ (Last accessed: 05.12.2019).

٥٧ غیردایمی غړي د جغرافیې په لحاظ ټاکل کېږی. افریقا او آسیا ٥ غړي، لاتین امریکا ۲ غړي، شرقي اروپا ۱ غړی، او غربي اروپا/نورې سیمې ۲ غړي په امنیت شورا کې د استازیتوب لپاره وړپېژني. وګورئ، How are the non-permanent members of the Security Council selected? بریښنایی پته: <http://ask.un.org/faq/14382> (وکتل شو: ۲۰۱۹.۱۲.۲۵)

58 Shaw, *International Law*, 1206.

59 Starke, *Introduction to International Law*, 558.

60 Malanczuk, *Akehurst's Modern Introduction to International Law*, 373.

61 Starke, *Introduction to International Law*, 558.

پروفیسر مایکل اکرسټ (۱۹۴۰-۱۹۸۹) په خپل کتاب[62] کې د ۱۹۷۰م د دوستانه اړیکو اعلامیې په استناد د ملګرو ملتونو د منشور مهم اصول په لاندې ډول لیکلي دي:

۱- د دولتونو پر ضد د ځواک پر کارونې او ګواښ عمومي بندیز[63]

۲- د دولتونو تر منځ شخړې باید له سوله ییزې لارې په داسې شکل حل شي چې نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ نه وي[64]

۳- دولتونه مسؤول دي چې د هېڅ بل دولت په کورنیو چارو کې لاسوهنه ونه کړي[65]

۴- دولتونه مکلف دي چې له منشور سره سم په خپل منځ کې همکاري وکړي[66]

۵ - خلک د مساوي حقونو او د خود ارادیت (خپلواکۍ) حق لري

٦- دولتونه له حاکمیت برخمن دي او په دې کې ټول سره مساوي دي[67]

۷- دولتونه باید د منشور مطابق خپل وجایب ترسره کړي.[68]

امریکایي سیاستوال او د سیاسي علومو پروفیسر، هِنري کسېنجر لیکي چې د ځوانۍ پر مهال مې د امریکا له ولسمشر، ټرومن، څخه پوښتنه وکړه چې ستره بریا دې څه ده. هغه یې ځواب کې وایي چې ستره بریا یې دا ده چې په دویمه نړیواله جګړه کې یې خپلو دوښمنانو ته ماتې ورکړه او بېرته یې د ملګرو ملتونو پر نامه یوه مېز باندې سره راټول کړل. معنا دا چې ملګري ملتونه په نړۍ کې د دغو سترو قدرتونو غوښتنې تمثیلوي او د دوی د ګټو پر اساس نړیوال نظم جوړوي.[69] که څه هم مسلمان هېوادونه د یو جلا تمدن په استازیتوب د ملګرو ملتونو

---

[62] *Ibid.*, 32.

[63] څلورمه فقره، دویمه ماده، د ملګرو ملتونو منشور. د بشپړ متن لپاره، برېښنایي پته: <https://treaties.un.org/doc/publication/ctc/uncharter.pdf> (وکتل شو: ۲۰۱۹.۱۲.۲۵)

[64] دریمه فقره، څلورمه ماده، د ملګرو ملتونو منشور

[65] اوومه فقره، څلورمه ماده، د ملګرو ملتونو منشور

[66] پنځمه ماده، څلورمه ماده، د ملګرو ملتونو منشور

[67] لومړۍ فقره، څلورمه ماده، د ملګرو ملتونو منشور

[68] دویمه فقره، څلورمه ماده، د ملګرو ملتونو منشور

[69] جلالي ، *شرق او غرب*، ١٦.

په غونډو کې ګډون کوي، خو اکثریت له نورو سره دی او هغه کارونه چې اکثریت يې تر سره کول غواړي تصويبېږي. ځکه نو، د بېلګې په توګه، که د همجنسبازۍ د جواز په هکله بحث وي، او مسلمان هېوادونه يې د تصويب رايه ورنکړي، بیا هم د نورو هېوادونو د مثبتې رایې له امله جواز ورکول کېږي او له بېلابېلو لارو يې بيا د پلي کېدلو هلې ځلې کوي.[۷۰]

د ملګرو ملتونو له رامنځ ته کېدو وروسته نړیوال قانون ډېر پرمختګ وکړ ځکه چې ملګري ملتونه د دغه قانون تر شا ولاړ او د پرمختګ لپاره يې هر ډول لارې چارې کاروي. د ملګرو ملتونو هڅې دي چې د نړیوال بشردوستانه قانون (International Humanitarian Law)، د بشري حقونو نړیوال قانون (International Human Rights Law) او نړیوال جنايي قانون (International Criminal Law) پر ګډون د بې شمېره قوانينو اساسات او تړونونه وضعه شول او نړیوال قانون هر اړخيز پرمختګ وکړ.

### ۵- د نړیوال قانون راتلونکی

پورته مو ولوستل چې د نړیوال قانون معاصره بڼه له دوو نړیوالو جګړې را په دې خوا جوړه شوې ده. دا هغه وخت وو چې د درېيمې نړۍ اکثریت هېوادونه پکې د اروپايي هېوادونو مستعمرې وې او له دې امله، د نړۍ ډېرې برخې د نړیوال قانون په جوړښت کې کوم رول و نه لوباوه. پر دې اساس، د دغو هېوادونو ځينې مشران وايي چې موږ د نړیوال قانون جوړولو کې کوم رول نه دی لوبولی، نو ولې يې باید ومنو.[۷۱] دا چې له دويمې نړيوالې جګړې وروسته ځو محدود هېوادونه ګټونکي وو، دوی د ملګرو ملتونو جوړښت کې اساسي رول ولوباوه او

---

۷۰ د نړیوالو او ملي قوانينو ترمنځ د ارتباط په هکله يوه نظريه د (coordinationism) په عنوان يادېږي. د دې نظريې منونکي په دې باور دي چې د ملي او نړیوال تړون تر منځ توپير څه معنی نلري، ځکه نو هېوادونه مکلف دي چې خپل ملي قوانين د نړیوال قانون په رڼا کې وضع، تفسير او پلي کړي. دا نظريه د بشري حقوقو او د هيومانزم يا انسان پرستۍ د مکتب لخوا ډېره ستايل شوې او هغوي يې په هره موضوع کې د مطرح کولو هڅه کوي. که د دوي نظر په اسانه ژبه وړاندې کړو نو دوی وايي چې که چېرته په نړيواله کچه يو حق منل شوی وي او خلک ترې ګټه پورته کوي نو بايد هېوادونه خپل ټول قوانين، حتی اساسي قانون، او عرفونه داسې ترتيب کړي چې نوموړی حق ومنل او پلي شي. د لا تفصيل لپاره، وګورئ، احمدخالد حاتم، *عمومی نړیوال قانون: يوه پېژندنه* (کابل: ۲۰۱٦)، ۴۱-۴۲.

71 Malanczuk, *Akehurst's Modern Introduction to International Law*, 28-29.

ځان ته يې د امنيت شورا له لارې يو ستر قدرت ورکړ چې د نړۍ په راتلونکو تصميمونو کې مهم رول لوبوي. د امنيت شورا د دايمي غړو د ويټو حق په نامه د هرې پرېکړې مخالفت کولای شي[٧٢] او عموماً يې دغه هېوادونه د خپلو ځانګړو ګټو د ساتلو لپاره کاروي.[٧٣]

دا هغه څه دي چې په نړۍ کې ورو ورو ورسره مخالفتونه په زياتېدو دي. اردوګان په ډاګه د ويټو حق سره مخالفت څرګند کړ او وار وار يې ويلي دي چې نړۍ اوس د پخوا په څېر نه ده چې يوازې پنځه هېوادونه دې دغه حق ولري.[٧٤] بلې خوا هندوستان، جاپان، جرمني او برازيل هم غواړي چې د امنيت شورا دايمي غړی شي. که څه هم امريکا د هند د غړيتوب ملاتړ کوي، فرانسه بيا د افريقا د غړيتوب ملاتړې ده.[٧٥] ځينې هېوادونه نيوکه کوي چې په دايمي غړو کې د اروپا دوه غړي شته خو د افريقا او لاتين امريکا استازيتوب پکې نشته.[٧٦] دغه راز د نړۍ ډېر هېوادونه له ويټو حق سره مخالف دي، ځکه د دې له امله په نړۍ کې بې عدالتي

---

[72] Ademola Abass, *International Law: Text, Cases, and Materials* (Oxford: Oxford University Press, 2014, 21.

[٧٣] امريکا د اسراييل په اړه ۴۳ ځلې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا تصميمونه ويټو کړي دي. د نور تفصيل لپاره وګورئ، The 43 times US has used veto power against UN resolutions on Israel برېښنايی پته: <https://www.middleeasteye.net/news/43-times-us-has-used-veto-power-against-un-resolutions-israel> (وکتل شو: ۲۰۱۹.۱۲.۲۵).

[٧٤] اردګان وار وار پر دغه خبره ټينګار کړی دی. وروستی وار د ۲۰۱۹م کال د ديسمبر پر ۱۹مه نېټه د کوالالمپور په غونډه کې چې د نوي اسلامي ايتلاف په موخه رامنځ ته شوې وه، هغه هغه وويل چې مسلمانان د نړۍ نږدې دوه بليونه اوسېدونکي دي او د دوی د سرنوشت پرېکړه بايد د ملګرو ملتونو د امنيت شورا پنځه دايمي غړو په لاس کې نه وي. د ډېرو معلوماتو له پاره:

Gozde Bayar, "Fate of World's Muslims Not in Hands of 5 Countries," *Anadolu Agency*. Available online at: <https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/fate-of-worlds-muslims-not-in-hands-of-5-countries/1677866> (Last accessed: 25.12.2019).

[٧٥] وګورئ، Background on Security Council Reform. برېښنايي پته: <https://www.globalpolicy.org/security-council/security-council-reform/membership-including-expansion-and-representation.html> (وکتل شو: ۲۰۱۹.۱۲.۲۵).

[٧٦] د معلوماتو لپاره، وګورئ، Should The UN Security Council Be Expanded? برېښنايي پته: <https://globalsolutions.org/should-the-un-security-council-be-expanded/> (وکتل شو: ۲۰۱۹.۱۲.۲۵).

رواج شوې ده. د نړیوال قانون مهم لیکوال، مارټین ډکسن، هم دا توقع لري چې راتلونکي کې ښايي د امنيت شورا دايمي غړي له پنځو څخه ډېر شي او د ويټو حق له منځه لاړ شي.[۷۷]

خو اوسنی نړیوال قانون یوازې د امنیت شورا او ویټو په برخه کې ستونزې نه لري، بلکې د دغه قانون معاصره عمومي بڼه اروپايي او غربي ده. نور فرهنګونه او تمدنونه يې جوړښت کې ډېر سهیم نه دي چې دا يې راتلونکي ته یو ګواښ جوړوي. د مثال په توګه، د مسلمانانو نړیوال قانون چې د فقه کتابونو کې د کتاب السير په نامه يادېږي، د اوسني نړیوال قانون له عمومي شکل سره په ټکر کې دی. اسلامي قانون نړۍ د عقيدې پر بنسټ ويشي. همدغه ويش لامل دی چې مسلمانان یو ملت، او نور بيا بل ملت ګڼي. د دغو دوو ملتونو تر منځ بيا د اصولو اختلاف شتون لري چې دغه اصول د هر یو ملت د نظم څرنګوالی تعيينوي. خو اوسنی نړیوال قانون په ملت-دولت او ويسټفالیايي ماډل ولاړ دی[۷۸] او په ټول نړیوال قانون کې یوازې د کفالت اصل له اسلامي تمدن څخه اخیستل شوی دی.[۷۹] دا په داسې حال کې ده چې د ملګرو ملتونو منشور صراحت کوي چې د نورو تمدنونو اصول د نړیوال قانون سرچینه بلل کېږي.[۸۰] پر مسلمانانو سربېره، چين هم ځان یو تمدن بولي او خپل ځانګړي اصول لري چې په نړیوال نظم کې منعکس شوي نه دي. دا چې ويل کېږي چې په نړۍ کې ځواک او قدرت له اروپا او غرب څخه د آسيا پر لور روان دی،[۸۱] که دغه کار وشي او د نړۍ

---

77 Martin Dixon, *Textbook on International* Law (London: Blackstone, 2000), 19.

۷۸ د تفصيلاتو له پاره وګورئ:

Jalaly, "Analysis of Origin, Development and Nature of Islamic International Law."

۷۹ فقره ۳، ماده ۲۰، د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون. د بشپړ متن لپاره، وګورئ، Convention on the Rights of the Child 1990 برېښنايي پته: <https://www.ohchr.org/documents/professionalinterest/crc.pdf> (وکتل شو: ۲۰۱۹.۱۲.۲۵)

۸۰ فقره ۱، ماده ۳۸، د ملګرو ملتونو منشور.

81 Mehmet Halil Mustafa Bektaş, Examining the Possibility of an Eastphalian International Order, *SİYASAL: Journal of Political Sciences*, 26:2 (2017), 111–130.

واکمني د آسيايي هېوادونو لاس ته ورشي، د اوسني نړيوال قانون عمومي شکل کې ښايي ډېر بدلونونه وليدل شي.[۸۲]

د جهاني نړيوال قانون پر ځای د سيمه ييز نړيوال قانون ځای پر ځای کېدل يوه بله موضوع ده چې راتلونکی نړيوال قانون بدلولای شي.[۸۳] معنا دا چې نړۍ کې هره خوا سيمه ييز قدرتونه په جوړېدو دي او دا د نړيوالتوب لپاره مشکل راولاړولای شي. که څه هم ځينې پوهان د واحد نړيوال دولت خبرې کوي او وايي چې نړۍ د يوه دولت پر لور روانه ده او همدا د سولې او آرامۍ د تر لاسه کولو ښه لار ده،[۸٤] خو ځينې نور پر دې باور دي چې ښايي راتلونکي کې سيمه ييز ځواکونه دومره زورور شي چې په نړۍ کې د دولتونو ځای ونيسي. د مثال په توګه اروپايي هېوادونه اروپايي اتحاديې سره راټول کړي، په عربي خليج کې د خليجي هېوادونو اداره ده، په افريقا کې افريقايي اتحاديه او په جنوبي آسيا کې سارک او آسيان سازمانونه هڅه کوي چې څو هېوادونه يو ځای کړي او يو قدرت جوړ کړي. دغه قدرتونه بيا لازمه نه ده چې د ملګرو ملتونو اصول او تګلاره ومني، او د سيمه ايزو منافعو په رڼا کې به نوي اصول او اساسات رامنځ ته کوي. کله نا کله خو داسې هم کېږي چې سيمه ييز قوانين له نړيوال قانون سره په ټکر کې واقع شي. دلته پوښتنه رامنځ ته کېږي چې دغه ډول حالاتو کې بايد کوم قانون پلی شي. ځينې وايي چې وروستی قانون پخوانی قانون له منځه وړي او ځينې بيا نور حلونه وړاندې کوي.[۸۵]

[82] په نړۍ کې چين د راپورته کېدونکي ځواک په توګه ورځ په ورځ مطرح کېږي او چين د غرب پر ډېری تصوراتو باور نه لري. چين پر ملت-دولت هم باور نه لري چې د اوسني نړيوال نظم او نړيوال قانون مهم مفهوم دی. چين خپل هېواد ملت-دولت نه بلکې تمدني دولت بولي. د ډېرو تفصيلاتو له پاره:

"Civilization State versus Nation-State" in Süddeutsche Zeitung, Available online at: <martinjacques.com/articles/civilization-state-versus-nation-state-2/> (Last accessed: 25.12.2019).

[83] *Ibid.*

[84] Conway W. Henderson, *Understanding International Law* (West Sussex: John Wiley & Sons Ltd.), 109.

[85] Tim Hillier, *Sourcebook on Public International Law* (London: Cavendish Publishing Limited, 1998), 57-58.

## پایله

اوسنی نړیوال قانون په دغه پراخ او پرمختللي شکل د اروپایي مسیحي تمدن لاسته راوړنه ده. که څه هم د نړیوال قانون ځینې اصول له پخوا شته وو او له میلاد مخکېنیو تمدنونو هم مراعاتول، خو په اوسني شکل دغه پراخ او پرمختللی قانون ایله څلور سوه کاله تاریخ لري او اروپا یې د زېږېدو او غوړېدو ټاټوبی دی. اوسنی نړیوال قانون په شته شکل کې په اروپا کې د ویستفالیا تړون له لاسلیکېدو سره پیل شوی دی او د وخت په تېرېدو پراخ شوی دی. په پیل کې دغه قانون تر ډېره د اروپایي هېوادونو ترمنځ پلی کېده، خو کله چې اروپایي هېوادونه زورور شول او نوره نړۍ یې د استعمار لاندې کړه، دوی دغه قانون له ځان سره نورې نړۍ ته یوړ. ډېر هېوادونه له خپلو دولتي سېستمونو څخه پرې شول او مجبور کړی شول چې اروپایي ملت-دولت سېستم ومني. د عثماني خلافت له سقوط او دویمې نړیوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو اداره جوړه شوه چې د دغه نړیوال قانون پر ټوله نړۍ د پلي کېدو لاره یې پرانیسته. استعماري دورې او د ملګرو ملتونو جوړېدو د نړیوال قانون په نړیوال کېدو کې مهم رول ولوباوه، او نوره نړۍ یې په دغه ترتیب د خپل نظم د منلو له پاره مجبوره کړه چې تر ننه همدا سېستم مخ پر وړاندې ځي. خو د دغه نړیوال قانون راتلونکی هم له ننګونو سره مخ ښکاري. مسلمانان د نړۍ مهمه برخه پر دغه سېستم باور نه لري او پردی ورته ښکاري او دغه راز چین او هند، چې هر یو یې له میلیارد زیات نفوس لري، پر دغو ارزښتونو باورمن نه دي له نورو ننګونو تر څنګه د نړیوال قانون راتلونکی له ګواښ سره مخ کوي.